د جهان شمالاست ملی سام مستقیم
تا بر مردم کیک ... (handwritten-style slogan)

شهادت

(٤) صفحه

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شمارهٔ مسلسل (١٠٦٩) سال هژدهم شمارهٔ (١٠١) یکشنبه (٨) دلو ١٣٧٤ هـ ،ش (٨) رمضان المبارك ١٤١٦ هـ ،ق (٢٨) جنوری ١٩٩٦ م

الهی لارښوونی

کوم خلك چې له الله اودهغه له پیغمبرسره جنګیږي اوپه ځمکه کې ددي لپاره منډي ترړي کوي چې فساد راولارکړي دهغو سزا داده چې ووژل شي، یاپه داروځړول شي ،یادهغوي لاسونه اوپښې ردي بدلي غوځې کړای شي، یاله وطنه وشړل شي. داذلت اوسپکاوي خودهغوي له پاره په دنیاکې دي اوپه آخرت کې دهغو لپاره لـه دینه لویه سزاده . خوکوم خلك چې توبـه وباسي مخکې له دینه چې تاسي پـرې تسلط ومـومې . تاسي تـه دي څرګنده وي چې الله بښونکي اورحم کونکي دي .

(المائده - ٣٣ - ٣٤)

جاده کابل - جلال آباد کاملاً باز شد

همزمان با ورودکاروان موادغذایی ومحروقاتی به کابل قیم مواد کاهش یافت

عملیات تلاشی انبارها وذخایرمواد غذایی ومحروقاتی درکابل آغاز شد

سروبي - ٧ دلو:

شاهراه کابل جلال آباد که ازحدود دوهفته به این سو بـه روي کاروان هاي اکمالاتي مسدود بـود، روز گذشته بازگردید.

یك منبع خبري ازسروبي گزارش داد که صبح دیروز شاهراه کابل - جلال آباد بروي کاروان هاي مواد ارتزاقي ومحروقاتي بازگردید وبیش ازیك صدعراده ، موتر حامل مـواد غذایي و سوختي ازسروبي عبورنموده بطرف کابل رفتند .

علت بندش جاده یادشده مشخص نبوده اماگفته شده کـه تنظیم هرچه بهترپوسته هاو پایگاه هـاي مسئولین امنیتي این جاده موجب بندش موقتي راه شده بود .

همزمان باورود کاروان هاي دیروزي به کابل درقیمت مـواد اولیه درین شهر محاصره شده کاهش قابل ملاحظه رونماگردیده ویاورود کاروان هاي بعدي احتمال کاهش بیشتر قیم مواد متصور است . جاده کابل - جلال آباد یگانه راه اکمالاتي شهرکابل بحساب میآید بقیه راه هاي منتهي به این شهرکه اکثر آن تحت کنترول طالبان است ازچندماه به این طرف مسدودبوده وازورود هرنوع مواد غذایي ومحروقاتي به کابل جلوگیري بعمل میآید .

منابع اداره کابل اظهارداشته اندکه روزگذشته حدود پنجصد عراده لاري حامل مواد غذایي وسوختي ازطریق جاده کابل - جلال آباد وارد کابل گردید .

به تعقیب ورود این کاروان قیمت مواد اولیه تاحدي کاهش یافت . درحالي که درجریان چند روز گذشته قیمت ها (٦٠) درصد افزایش یافته بود ودرصورت ادامه بندش راه افزایش بیشترقیم حتمي به نظرمي رسید .

براساس گزارش همین منبع ، دیروز

(٤)مخ

دقرغان تپې ښار دقوماندان محمود دقواوو په لاس کې لویدلی دی

محمود غواړی دمخالفینو سره په مذاکراتوکی دړژیم وپاند استعفی وکړی

دوشنبه - دسلواغي ٧ مه :

دتاجکستان پـه جنوب کې دقرغان تپې ښاردېر ياغي قوماندان دقواووځوا نیول شوي دي .

دنړیوالو خبري منابعو پـه حواله ویل کیږي چې : دوږځې شپې په اوږدوکې دتاجکستان دیاغي قوماندان محمود قواوو دقرغان تپې په ښارکې ددوشنبي دړژیم ملیشې محاصره کړي اودهغوي په لوري ئې خپل پرمختګ ته دوام ورکړي دي .

دقوماندان محمود قواوي چې اوس ئې دتاجکستان په جنوب کې دقرغان تپې ښار نیولي دي غواړي چې دتاجکستان دمخالفینوسره دروغي جوړي په خبروکې دحکومت وپاند باید استعفي وکړي.

له بلي خوا دتاجکستان په لویدیځ

(٤)مخ

دکهمرد په ولسوالی کی دنظار شورا د(٣١) فرقی دځای پرځای کیدو پلان دماتی سره مخ شو

دسیمی دخلکو دسخت عکس العمل په نتیجه کی دنظارشورا وسله وال افراد د صیغان اودره شکاری په لور په شاتللی دی

بامیان - دسلواغي ٧ مه :

دبامیانو دولایت په مربوطاتو کې دنظارشورادبوي نظامي فرقې دجوړیدو هڅې دناکامي سره مخامخ شوي .

دبامیانوله ولایت څخه دحزب اسلامي یوي خبري منبع دمخابروي تماس په ترڅ کې شهادت ته وویل چې: په دي وروستیو ورځوکې دنظارشورا مشرانو تصمیم نیولي روچې دبي پښتوانې باتکتوتوتوپه ذریعه دبامیانودولایت دکهمرد د ولسوالي داجاریه دره کې د٣١ نظامي فرقې په نوم یوه فرقه ځاي پرځاي کړي . خودنظارشورا دافرادو دغه دښمني نه وك پلان دکهمرد دولسوالي دخلکودسخت عکس العمل سره مخامخ شو، چې دسیمي دخلکو دپاڅون په نتیجه کې دنظارشورا وسله وال جګړه ماران دصیغان اودره شکاري په لوري په شاوتښتیدل شول.

ویل کیږی چې: دصیغان اودره شکاري دسیمواوسیدونکو هـم دکهمرد دولسوالي دخلکوپه شان دنظارشورا ددغه جګړه ماریلان په وړاندي سخت عکس العمل ښودلي او دخپلوسیمو څخه ئې دنظارشورا د افرادو د هـر ډه زرترزوره وتلوغوښتنه کړي ده .

##

وروړحکمتیار«مهترلام» بابا په جامع جومات کې :

دهیواددکړکیچ د اواری یواځنی لاره «ربانی» استعفی اودټولو دخوښی مؤقتی اداری ته دواك سپارل دی

د «ربانی» لـه خوا اوربند دجګړی اوږدیدل دی

مونږدلارویه خلاصولو اودکابل ښاریانو دستونزو په حل کولو کی هر راز مرستی ته تیاریو

لغمان - دسلواغي شپږمه :

دحزب اسلامي افغانستان امیر وروړحکمتیار» پرون د لغمان ولایت دمرکزمهترلام بابا په جامع جومات کې دجمعي ترلمانځه دمخه یوې لوئي غونډي ته په وینا کې وویل چې «دهیواد دکړکیچ داوارولویواځنې لاره داده چې رباني له قدرته ګوښه شي،استعفي وکړي اوسیاسي واك یوي داسي موقتي اداري ته وسپارل شي چې دټولو مطرحوګوندونویه خوښه رامنځ ته شوي وي »

دشهادت» خبریال وائي چې ورور حکمتیار» درباني اداري لـه خوادیوه ارخیز اوربنداعلان په باب وویل چې » دکابل دائتلافي اداري له خوا دیوه اړخیز اوربند اعلان له دي پرته چې جګړه نوره هم اوږده شي، بله معنیٰ نه لري، یوطرفه اوربندونه بې له دي چې بحران پیچلي کړي او جګړي ته دوام ورکړي، بله ګټه نه لري، پکارده چې دبحران دکلي حل په لټه کې شو اودجګړي دداسې، پای ته رسیدو هڅه وکړو، اوداهدف له دي پرته چې دجګړي اصلي سبب اوعوامل له منځه ولاړشي، په نورو لارونښي ترسره کیداي .

دحزب امیردکابل دلویولارو اودکابل ښاریانودستونزو او تنګسیو په باره کې

(٤)مخ

درنقاط مختلف جمهوري چیچن:

در(٢٤) ساعت گذشته (٢٨) بارنظامیان روسیه هدف حمله قرارگرفته اند

گروزني - ٧ دلو :

دربیست وچهارساعت گذشته مراکز وقطارهاي اکمالاتي نظامي روسیه در مناطق مختلف چیچن بیست وهشت مرتبه مورد حمله مبارزین مسلمان وآزادیخواه چیچني قرارگرفته است .

به اساس گزارش منابع خبري روسیه صرف درشهرگروزني هفده مرتبه حمله صورت گرفته کـه درحمله روزجمعه

ص(٤)

مادران پیلوت های روسی درقندهار نامه هشدار دهنده عنوانی صدراعظم روسیه ارسال داشته اند

اگراسرای روسی رها نه گردند به اعتصاب غذایی دست خواهندزد

مسکو- ٧ دلو:

به تعقیب آنکه تلاش هاي روسیه بالعزام چندین هیئت پی درپی به قندهاردرجهت آزاد سازي عـملهٔ طیاره ترانسپورتي روسي در قـندهار به ناکامي مواجه گردید، اکنون خانواده هاي اسرا ازمسکوخواسته اند بااستفاده ازهمه وسایل ممکن هرچه زودتر عملهٔ طیاره مذکور را رهاگرداند .

طبق گزارش خبرگزاري ایتارتاس مادران عملهٔ طیاره روسي ایلوش ٧٦ طي ارسال پیامي عنوانی (ویکتورچرنومردین) صدراعظم روسیه ازاوخواسته اند تا حکومت روسیه فعالیت هاي خودرا درمورد بازگرداندن پیلوت هامحرك بیشتربخشد ، درغیرآن خانواده هاي اسیردست به اقدامات نهایي ازجمله اعتصاب غذایي تاسرحدمرگ خواهند زد

درین پیام آمده است که صدراعظم روسیه دردسامبرسال ١٩٩٥ عیسوي باالبرت گـور معاون ریاست جمهوري امریکا وخانم بې نظیربوتو صدراعظم پاکستان درمورد مساعدت جهت رهایي عمله طیاره مذکوربه توافق رسیدند وگفته شدکه آزادسازي آن ها ازطریق

ص (٤) .

وروړحکمتیار دلغمان دولایت داجرائیه شورادغړواو دکونړولایت دشیګل دولسوالی دخلکو له استازو سره وکتل

دلغمان ولایت داجرائیه شورا غړو دهرډول دند و داجراکولو چمتوالی څرګند کړ

مهترلام - دسلواغي ٧ مه :

وروړ حکمتیار دلغمان ولایت په مرکز دخپل کارپه دفترکې دلغمان او کونړونو دولایتونویو شمیر قوماندانان او مسئولین دکتني لپاره خپل حضورته ومنل .

پرون دلغمان ولایت داجرائیه شورا غړوهریو دلغمان والي استادعبدالله جان «واحدي» دولایت دمحکمو رئیس مولـوي نایل، دڅارنوالي رئیس ، دلغمـان د ولایت ددولت شاه دولسوالي والفتح دقرارګاه قوماندان تورنجنرال فولاد، دلغمان دولایت دشوراغړي مولوي حجت الدین، دلغمان دولایت مستوفي حاجي محمدعمراو دمهترلام بابا دجامع جومات خطیب دمهترلام بابا په ښارکي دوروړحکمتیار دکار په دفتر کې دهغه سره وکتل . د وروړ حکمتیار سره دلغمان دولایت داجرائیه شورا دغړودغه لیدنه چې دوړځ، له دولسو بجو څخه ئې

(٤)مخ

کابل بایك فاجعهٔ بزرگ انسانی مواجه است

موادموجود خوراکی درشهر کابل صرف برای دوهفته کفایت میکند

کابل - ٧ دلو :

ذخایر موجود مواد خوراکي درشهرکابل براي دوهفته کفایت میکند ازاینرو مردم کابل بایك فاجعه بزرگ انساني مواجه اند .

این مطلب راومارتین باریر» معاون اداره کمك هاي بشري سازمان ملل متحد درافغانستان ، اعلان داشته است . موصوف میگویدکه جزآزاد سازي راه ها وجاده هاي منتهي به کابل ، چاره دیگري براي امداد به شهریان کابل وجود ندارد ، زیرا ارسال کمکهای مواد غذایی وسوختي ازطریق هوابکابل نهایت مشکل بوده و مصارف آن نسبت به راه زمیني به مراتب زیادترمیباشد .

باریر اضافه میکند که مردم کابل نسبت به گذشته به مراتب دچارمشکلات

(٤)مخ

ایران وپاکستان درقبال مسئله افغانستان هیچ اختلافی با هم ندارند

محال است که اداره کابل با اسلحهٔ روسی وهندی صلح رادر افغانستان تامین کند

تطبیق پروگرام های انکشافی وبازسازی درافغانستان به معنی مداخله درانکشورنیست

اصف احمد علی وزیر خارجه پاکستان

اسلام آباد - ٧ دلو :

فعال ساختن شعبات بانکي شبکه هاي بانکداري ،شبکه هاي تیلفون واعمارجاده هاي مواصلاتي توسط پاکستان درمناطقي ازافغانستان که امنیت کامل برقرار است به معني مداخله در امور داخلي آنکشور نیست .

منابع خبري پاکستان گزارش میدهند که سرداراصـف احمدعلي وزیرخارجه پاکستان درپاسخ بـه سوالات بعضي زاعضاي پارلمان پاکستان گفته است که پاکستان مصروف کارهـاي عمراني

ص(٤)

هند دومین آزمایش موفقانه راکت پرتوي را انجام داده است

دهلي جدید - ٦دلو :

هند دومین آزمایش راکت میان برد پرتوي را موفقانه انجام داده است .

به اساس گـزارش منابع خبري هند بردابن نوع راکـت درحـدود (٢٥٠) کیلومتربوده وحکومت هـند قصد دارد تااین راکت هارا درسرحداتش باپاکستان نصب نماید .

درهمین گزارش گفته شده که این راکت ها توانایي پرتاب حدود یك تن بم راداشته علاوتاً ازقابلیت حمل کلاهك هاي اتمي نیز برخوردار است . حکومت هند درمقابل اعتراض حکومت پاکستان گفته است که پاکستان نیز همچوسلاح هایی را

ص (٤)

(٤٥٠٠) لحاف به مهاجرین افغان توزیع شد

پشاور ٧ دلو:

رستم شاه مهمند کمشنر مهاجرین افغان (٤٥٠٠) تخته لحاف را به مهاجرین تازه وارد افغان درکمپ ناصرباغ توزیع کرد .

طبق گزارش، لحاف هاي یادشده ازطرف جمهوري مردم چین نشانه همکاري بامردم افغانستان هدیه شده بود .

ص (٤)

ارتش هند میزایل های پرتئوي ساخت این کشور را روز جمعه دراثنای رژه نظامی به مناسبت روز جمهوری هند دردهلی جدید به نمایش گذاشته است .

ائتلاف دوگروه "مادروطن" و "راه راست" ترکیه به ناکامی آنجامید

انقره - ٧ دلو:

پنجشنبه گذشته ٢٥ جنوري رهبر حزب مادروطن ترکیه تشکیل حکومت ائتلافي باحزب راه راست ترکیه برهبري خانم تانسوچیلررا ردکرده است .

بنابرگزارش منابع خبري ایران خانم تانسوچیلرکه ازطرف سلیمان دیمریل رئیس جمهورترکیه موظف به تشکیل حکومت جدیدشده بود، درپیشنهادش بامسعود الماز رهبرحـزب ما در وطن ترکیه دررابطه باتشکیل حکومت ائتلافي به ناکامي دچارشده است .

گرچه چیلر به المازپیشنهادکرده است که مدت کارنخست وزیرابراساس تقسیم بندي زماني یعني دونیم دونیم سال باهم تقسیم کنند ولي الماز این مسئله راردکرده است.

ص (٤)

اعلان فاتحه

حاجی غوث الدین غزنیوال شوهر ،حاجی غلام دستگیر و حاجی محمد ابراهیم غزنیوال برادران شوهر. عبدالاحد ستاك سروری غزنوی برادر، حاجی محمدنعیم حاجی محمد احسان ، اسدالله ومحمد هاشم برادرزاده های شوهر، عبدالغفارنعیمی وحفیظ الله غزنیوال دامادان .

نسبت وفات والده ، نورالدین غزنیوال به اطلاع دوستان میرسانند که جنازه ساعت (١١) بجه قبل از ظهر روز یکشنبه (٢٨) جنوری ازمنزل شان واقع جهانگیرآباد برداشته شده به خاك سپرده میشود .

(إنالله و إنا إليه راجعون)

فاتحه مردانه روز دوشنبه (٢٩) جنوری ازساعت (٩) الی (١٢) قبل از ظهردرمسجد جامع سپین جماعت وفاتحه زنانه بروز مذکور درمنزل شان برای یك روز گرفته میشود .

شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس: انجنیرحکمتیار
ناشر: ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر: محمد نذیر«بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تلیفون: ۲۵٦۳۷۸۹
آدرس پستی: ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

د «مسعود» لپاره یو، چانس

که دکابل اداري مسئولین خپلي تقریباً څلورکلني دورې ته وگوري ،حالات مطالعه کړي اوداوسنجوي چي په دي موده کي ئي څه ترلاسه کړل، څومره ئي پرمختگ وکړ، څومره ئي په جامعه کي ذهنیتونه ځانته ورواړول ،څومره ئي دخپلي بقاشرطونه اوبنیادونه ټینگ کړل، اوڅومره ئي دازمینه جوړه کړه چي که په افغانستان کي غالب قوت نه وي نولومړي درجه ځواك خودي وي ؟

فکرکوو چي دقیق ځواب به داوومي چي په یاده شوي یوه برخه کي هم هیڅ بري په لاس نه دي ورغلي .

دتسلط دپراختیا په حساب ئي لوي تاوان کړي، سږتریږوسږ اوپروسږترابل کال. په دي معنی چي دهم آهنگي شوري ترجوړیدو دمخه چي دوه کاله ئي وشول، کابل اداري په بلخ ،سمنگانو، کندزولایتونواوحیرتان بندر باندي کنترول درلود، په بغلان ولایت کي ئي موقعیت ښه و، دسالنگ لویه لارئي په مخ خلاصه وه . دکابل په لویدیزه برخه ئي حضوروو، په لغمان، لوگراو وردگوولایتونوکي ئي جبهي اومرکزونه فعال وو. مگردهم آهنگي شوري ترجوړیدو وروسته ئي داټول له لاسه ورکړل . دسالنگ لارئي په مخ وتړله شوه، بلخ اوسمنگان ټول اودکندوز زیاته برخه ئي له لاسه ورکړه، دحیرتان بندرئي له کنترول نه ووتو، دکابل له لویدیځ نه ئي اډي تصفیه شوي، په لغمان ،لوگر اووردگوولایتونوکي ئي مرکزونه له منځه ولاړل .

په دي علاوه ئي دوه مهم متحدین جنبش او«وحدت» گوندونه تري جلاشول اوپرضدئي ودریدل .

سږکال ئي بیا حالت ترپروسږیه وار وار خراب شو.

هرات دکابل اداري مهم قلمرو و، شینډنډئي خورامهمه اډه وه . اوددي ترڅنگ دهیواد دجنوب لویځ څونوروولایتونه دکابل اداري دپلویانوپه لاس کي وو .

مگرسږدادي گوروچي ،نه هرات ورپاتي شو، نه شینډنډ اونه په جنوب لویدیزو ولایتونوکي دخپلي بقا اوحضوروکومه نښه . دعامه ذهنیتونو په لحاظ کابل اداري قدم په قدم تاوان کړي، هره ورځ چي دبحران تیریږي،هره فاجعه چي دهیواد په هره برخه کي واقع کیږي ، هره پیچلتیاچي په کرکیچ رامنځ ته کیږي، هره ستونزه چي زموږدملت په وگرودهیواد دننه اودباندي راځي ، دهغي دمسئولیت لویه برخه دکابل اداري مسئولینوته راجع کیږي.

همداوجه ده چي دټولو په خوله کي داخبره ناسته ده چي باید دااداره منحل شي، دټولو په خوښه گډه اداره جوړه شي اوله دي پرته دهیواد بحران نه اواریږي .

که له نورو ورتیرشو، هغه کسان چي دکابل اداري دپیسو دبندلونوبیتي ئي په اوږووي اولاتي کوزي کړي هم نه وي ، هغوي هم ددي اداري له دفاع کولو نه عاجز دي. حتي په خپله استاد«رباني» هم په هیڅ توگه ددي جرئت نشي کولاي چي خپله اداره دهیواد دمشکلاتو دحل جوگه وگڼي .

دادکابل دمسئولینو داخلاقي بیناو و دلرزانده موجودیت یولوي ثبوت دي، اوهغوي باید درك کړي چي ددي حالت ادامه به هغه وضعه وي چي بیا به دوي له خپلوځانونو څخه نفرت کوي .

د«کابل اداري» ترټولومهمه حربه دپیسوچاپ او درلودل وو . علاوه له دي چي هغه ماتي چي دي اداري یوپه بل پسي وخوړي، ددي لپاره څرگنددلیل دي، چي دا«حربه» ناکامه ده ، موثریت ئي له لاسه ورکړي اوباید په هیڅ توگه هغه دخپل بري رازونه گڼي .

اوس خودپیسو دچاپ اوتوزیع خبري یوه مضبوطه ضربه داهم وخوړه چي نورو هم داکارپیل کړي اوپه اصطلاح احمدشاه «مسعود» ددي وگټونکي پانې » دانحصارچانس له لاسه ورکړي دي. کم ترکمه دهیواد دوونورومهموقوتونودافغانیو په چاپ لاس پوري کړي دي.

ددي ټولو شیانوترڅنگ داسي معلومیږي چي د«کابل اداري» اومسعود هغه ماموریت په پوره کیدودي دکوم لپاره چي ورباندي بهرنیوطاقتونولاس وهلي و، اوراوړاندي کړي ئي وو . هغوي بله سناریو مخي ته اچولي، اودنوي سناریو لپاره په نویولوبغاړو خواري کوي .

موږفکرکوو چي دکابل اداري داصلي کرداراحمدشاه مسعود لپاره وروستي چانس دي چي ژور سوچ وکړي او په نوي جذبه په خپلوپخوانیوکړووړودبطلان کرښه راکاږي ، له ماجراوو اوجگړولاس واخلي ، اوبي له دي چي ورباندي یومخ ناوخته شي، دهیواد دبحران دحل اوځولي دتحقق په لارکي قدم واخلي .

هغه ته همداچانس ،شاید وروستي چانس وي، وخت تري په چټکي تیریږي اوهغه شیبي ورباندي راتلونکي دي، چي ووائي «کاشکي، وروستي عقل رومبي واي ».

دکابل ښاريانودلوږی مسؤول څوک دی؟

میا اروال

په دي شپوورځوکي یوځل بیاداخبره ډیره گرمه شویده چي که کابل ښارته خوراکي اوداړتیاوړ نورلومړني موادونه رسول شي په کابل کي به لویه فاجعه رامنځ ته شي اودافاجعه به ځکه رامنځ ته شي چي کابل ښارته راغلي څلورلوټي لاري دربانې اومسعود دااداري دمخالفینوله خوا تړل شویدي .

دلته دیوځه ،غوراوفکرخبره ده هغه داچي ددي لارودبندیدو له امله په کابل ښاریانوباندي داحالت راغلي اوکه ددي کارعامل اوعلت دغه رازحالت ته زمینه برابره کړیده داهم پوښتل په کاردي چي آیا په کابل کي اوس ریښتیاهم غذائي اودسون موادنشته ؟ په دادومره موده کي کابل ته ورغلي مواد څه شول چاحتکارکړل ؟ آیا

> کابل ښاریان حق لري چي خپل آوازپورته کړي او ووائي چي ولي ددوي پرسرسوداگري کیږي ؟ ولي ددوي حقوق نه ورکول کیږي؟ حقوق خوبي لاڅه هغه خوراکي مواد چي سوداگر او چلاپان یي دخپلوگټولپاره کابل ته وړي هم دوي ته یي څوك نه ورکوي. له داسي غاصبانو څخه دخپل حق ترگوتوکول اوددغه ظلم مخنیول نه یواځي دنیائي گټه لري بلکي اخروي اجرهم په کي شته .

دامواد سوداگرو غلااواحتکارکړل چي بیایي په لوړوترخونوپلوري اوکه دکابل داداري ټیکه دارانوپخپلو پوځي زیرمرکي پټ کړل چي خپلو پلویانوته یي په پراخه اندازه په واك کي ورکوي .

داهم اوریدل کیږي چي سږکال دملگروملتونو اداره غواړي له افغانستان سره د ۱۸۰۰ زره ټنوپه اندازه خوراکي مواد مرسته وکړي چي له دغه شمیرڅخه ۳۰۰۰ ټنه دکابل ښارتـه وړل شوي اودهغه ښاریوپرپنځمه برخه وگړو پـه واك کي ورکړشوي دي .

ترهغـه ځایـه چي زموږ هیوادوال شاهدان دي په همدي ځوتیرومیاشتوکي دیوشمیرسوداگرو له خوا له مبالغي پرته

هره ورځ دسلواویوټیم سل ترمنځ په غلوداتو،غوړیو،بوري اولرگیوبارموټرونه دتورخم کابل له لاري دکابل ښارته وړل کیدل چي دکابل ښاریه ختیځ دپلچرخي بله په سیمه کي دکابل دااداري دکمیشنکارانوله خوا موټریس « ټول بار» په څولکوافغانیو اخستل کیدل، دمسعود دخواکونو لـه خوا پـه پوځي بارکونو اوگدامونوکي ځاي پرځاي کیدل . په دغي معامله کي یوجي اوټن په حساب نه دي دموټرپه حساب دي.

په دي معنی چي سل موټره اوړه ،شل موټره ، پنځه موټره غوړي، پنځوس موټره لرگي وپیرودل شول نه داچي دومره یوجي یادومره ټنه موادداځکه چي ددي وخت نشته چي دموادو اندازه وټاکل شي بلکي دهرموټرقیمت اوددغو شدبیه یي له سوداگرڅخه پوښتله کیدله او پیسي به ورکول کیدلي اوبیا به په ټاکلوځایونوکي له موټروڅخه راښکته کول کیدل .

که چیري په اوسط ډول حساب وشي چي هره ورځ دي ۱۲۰ موټره په خوراکي موادو بارموټر چي پـه هر یوه کي دي (۱۵) ټنه خوراکي مواد باروي دکابل ښارته ورشي نو پـه یوه ورځ کي به (۱۸۰۰) ټنه اویه یوه میاشت کي ،، بیا

روان دي چي یوشمیر سوداگر – چلاپان دنظامي ټولگیو مسوولین او دپاکستان یو شمیرکمپني یي په گډه سرته رسوي که شپږمیاشتي یي وبولونوتراوسه به په کابل کي (۳۲٤۰۰۰) ټنه مواد موجودوي .

دادکابل ښاریانـو دنـده وه چي دمسعود اواداري نه وپوښتل شي چي دامواد څه شول، چیري دي اوچاته وویشل شول؟ دکابل ښاریـان خو صلاحیت اومکلفیت لري چي خپل مسوولیت ذرك کړي. هغوي باید دخپل حق پوښتنه وکړي هرڅه چي داداري واکمنان وربانذي کوي اوددوي دي چپ خوله وي دظالم دهرظلم په وړاندي دي سرونه ټیټ کړي له دي خوخبردي چي لـوي خداي (ج) به دغه رازظالم اومظلوم دواړه دوزخ ته بیائي .

کابل ښاریان حـق لري چي خپل آوازپورته کړي او ووائي چي ولي ددوي پرسرسوداگري کیږي ؟ ولي ددوي حقوق نه ورکول کیږي؟ حقوق خوبي لاڅه هغه خوراکي مواد چي سوداگر او چلاپان یي دخپلوگټوله پاره کابل ته وړي هم دوي ته یي څوك نه ورکوي، له داسي غاصبانو څخه دخپل حق ترگوتوکول اوددغه ظلم مخنیول نه یواځي دنیائي گټه لري بلکي اخروي اجرهم په کي شته .

> ترهغه ځایه چي دحزب اسلامي افغانستان په اسلامي او انساني پالیسي اوسیاست پوري اړه لري ټل یي زیارگاللي چي دخپلوټولو هیوادوالو د خدمت مصدر وگرځي هڅه یي کړي چي له خوراکي موادونه نیولي ترسون اونورو اړتیاوړموادو پوري ځیزونه خپلومسلمانو خلکوته ورسوي آن تردي چي دکابل ښاریانوله پاره یي ددغوموادودعادلانه ویش له پاره دکابل په ختیځ . شمال اولویدیځ کي دتوزیع سترمرکزونه جوړکړي وه دامي هم په یاددي چي دکابل په سیدنورمحمدشاه مینه چهارآسیاب ارزان قیمت سیموکي یي په وړیاتوکه غنم ویشل .

(۵٤۰۰۰) ټنه اوبه دري میاشتوکي به (۱٦۲۰۰۰) ټنه مواد دکابل ښارته وړل شوي وي اوداکارله څومیاشتوراهیسي

بله دیادولووړخبره داده چي ملگري ملتونه اوځیني نوري اداري اوهیوادونه افغانستان یواځي دکابـل ښاریولي

دافغانستان دنورو اتـه ویشتوولایتونو وگړي ورته افغانان نه ښکاري . هغوي ددي خبري کومه لټه کړي چي په دي ولایتونواو ولسوالیوکي څه تیریږي که یواځي په همدي پلمه دمسعود اورباني دااداري دژوندناوږدول غواړي .

موږدانه وایوچي کابل ښاریانوته دي مرستي نه وررسول کیږي ، موږ دا نه دي غوښتي چي دکابل ولسونه دي دکلابندي په شپوورځوکي ژوندوکړي، موږدانه غواړو چي زموږیومتدین هیوادوال دي په لویو لاروکي دقطاع الطریقانوله خوالوټ شي، موږیه هیڅکله هـم دیوتاروغ هیوادوال داړتیاوړدرملودوړولومخه ونه نیسو .

دکابل اداره چي ددغوټولویدمرغیوپه سرکي پرته اومنشأده باید نورزموږددي محروم اومظلوم ملت پرتیپونوبالگي ونه دوروي . اوس ددي وخت دي چي موږ په میرانه دخپل مسلمان اومجاهدولس خدمت ته ملاوتړو . په دي کي هم شك نشته چي شیطاني اواسلامي ضدقوتونه اوزموږیوشمیرېدنیته گاونډیان هم په دي هڅه کي دي چي زموږ دهیوادوالو ستونزي لاپسي ورزیاتي کړي .

ترهغه ځایه چي دحزب اسلامي افغانستان په اسلامي او انساني پالیسي اوسیاست پوري اړه لري ټل یي زیارگاللي چي دخپلوټولو هیوادوالو د خدمت مصدر وگرځي هڅه یي کړي چي له خوراکي موادونه نیولي ترسون اونورو اړتیاوړموادو پوري ځیزونه خپلومسلمانو خلکوته ورسوي آن تردي چي دکابل ښاریانوله پاره یي ددغوموادودعادلانه ویش له پاره دکابل په ختیځ ، شمال اولویدیځ کي دتوزیع سترمرکزونه جوړکړي وه دامي هم په یاددي چي دکابل په سیدنورمحمدشاه مینه چهارآسیاب اوارزان قیمت سیموکي یي په وړیاتوکه غنم ویشل .

لـه بـده مرغه چي ددغو پخوانیو پالیسیو اوپاروانو اسانتیاوو څخه دکابل ښاریان نشي مستفیدکیدلي بلکي هغه بیا دجگړه ماړو په واك کي ورکول کیږي اوجگړه ماران یي پخپلوزیرمه ځایونوکي پټوي . هغه هم په دي نیت چي ښائي نن سباکومه بله جگړه پیل کړي اوبیا به ددوي پرېځي ونشي کړاي په ووي گیډه دخپلوجگړه ییزو سنگرونوساتنه وکړاي شي .

نو، په کارده چي ترټولو لومړي باید په هیواد کي دشراوفسادمرکزیادکابل اداره ختمه شي اوهغه گدامونه اوپارکونه چي له غذائي او خـوراکي مـوادو څخه په غلااواحتکاروك شوي دکابل ښارمنده یي گانواومارکیټونوته راوویستل شي اوبه مناسبه بیه دي دکابل ښاریانوته وویشل

> په کارده چي ترټولو لومړي باید پـه هیواد کي د شر او فساد مرکزیادکابل اداره ختمه شي اوهغه گدامونه اوپارکونه چي له غذائي او خـوراکي مـوادو څخه په غلا اواحتکاروك شوي دکابل ښارمنده یي گانواومارکیټونوته راوویستل شي اوبه مناسبه بیه دي دکابل ښاریانوته وویشل شي، ملگري ملتونـه دي دټولو افغانانو دغي غوښتني ته لبیك ووائي اوکه نه موږدهغوي په پلمویوهیږو .

شي. ملگري ملتونـه دي دټولو افغانانو دغي غوښتني ته لبیك ووائي اوکه نه موږدهغوي په پلمویوهیږو .

بله خبره داده چي کابل ښاریان دي هم ددغه روان تاتار اوظلم په وړاندي په پاڅون لاس پوري کړي له خپلوصادقو اوایماندارو جهادي ځواکونو څخه دي مرسته وغواړي آن داچي ټول جهادي ځواکونه باید لاسونه سره ورکړي اوددغه ناوړه حالت پایدپاي تـه ورسوي . حزب اسلامي افغانستان چي تـل دخپلو هیوادوالو په خدمت کي دي یوځل بیا دهیواد په گوټ گوټ کي له لویو لاروڼیولي، ترښارونو پاندو اوکلیوپوري داخلاص اوصداقت په وگرکي دخدمت له پاره ملاتړلي ولاړدي .

حال دویلولایق نه دی

زما یو- ډیرخوږ دوست داسی هم شته چی د ده ډیری خبری او کارونه د کالم لیکنی لپاره ډیر موزون اومناسب دی – زه که یواځی د ده دخبرو – کارونو – حرکاتو اوسکناتو پریوه یوه اړخ هم څه لیکم نو دا هرڅه – یوه نوی او بیله موضوع ده چی کیدی شی د ډیروله پاره په زړه پوري وی – خو دوه ټکی زما په مخه کی دی یو داچي هسی نه سبا ټول دوستان رانه لدی امله په تنگ شی چی دکالم لپاره یی موضوع ونه گرځوم اوبله داچی کالمو ته به دومره شخصی شی چی دشهادت چلوونکی به هسی د اخبار دمخونو په دکرلو ترملامتی لاندی راشی – که نه نو زما لپاره د دغه دوست د افکارو – خیالاتو – تصوراتو – خبرو او کړنو مطالعه دومره پراخه او جالبه ده چی یو کال خو په ذمه د اخبار لپاره په ډیره آسانی د کالم لیکنو موضوعات برابرولی. زه کله داسم گڼم چی دوست می له تن یوه پیړی مخکی ښایی پیدا شوی وای دی دننی زمانی مخلوق ونشم گڼلی د ده ځینی کارونه . او کرکترونه د تن ندي د پرون هم ندی د ملایانو خبره د ماضی بعید دی .

کله کله پدی هم شکمن شم چی دی به زموږ ددغه ځمکی د کری مخلوق نه وی – کیدی شی له کومی سیاری څخه راغلی وی چی لا تراوسه ورته دساینس اوتخنیک لاس ندی رسیدلی .

یووخت په مطبوعاتو کی دځمکی په پرمخ په ځینو ځایونوکی د یوه نوی مخلوق انکشاف وشو ودپشقاب های پرنده » په نوم – له کومی سیاری نه د ځمکی مخ ته د راکوزشوی مخلوق څرک څرگند شو – دا انکشاف د مطبوعاتو ډیره توده موضوع وگرځیده – ځینو خبرونو یی تصویرونه هم خپاره کری وو – اوس هم کله ناکله نړیوال مطبوعات دا ډول له عجائبو ډك خبرونه خپروی او یو بل ځای د داسی حیرانوونکو انکشافاتو نه خبری کوی چی له زړو افسانوی حادثو او د دیو او پری له کیسو سره ډیر مشابهت لری – دساینس د دومره پرمختگونو سره بیا هم بشر هغه تلوسه له لاسه ندی ورکړي چی :

د لرگی په تیر پولادی ستنه ماتولی شی

خبره زما د دوست وه ، چی که دهغو دیوانو او پریانو د زمانو او افسانوی پدیدو دوخت محصول یی وگڼو کیدی شی بی انصافی موکری وی څوکه دهغو تیرو وختوچي موږیی دصدق صفا -ریښتنولی – او د افغانی او انسانی ارځښتونو د تقدس عصر بولو او ارمان یی کوو مخلوق وبولو توغاره به موخلاصه وی .

د ده په اړه زما له دغه تعبیر سره دنن زمانی په هکی کی چوڼیدلی مخلوق مخالف دی هغوی دی د ساده ، کلیوال ناخبره د(فیل په غوږ کی ویده) اوحتی نادیده او د زاړو او ورستو اصولو پابند

بولی تر دی چی پدی عقیده دی چی باید دی دپخوانی زمانی د یوه انتیك یادگارپه توگه یواځی په موزیم کی وساتل شی د ده لپاره تر دی بل مناسب ځای نشته او د ځمکی پرمخ د حرکت اوفعالیت نور چانس

ساده زړونه

میوند

تلري .

خو لدی سره د ده دشخصیت یوبل اړخ داسی دی چی ددی په ضد اومقابل کی ولاړ دی – داجهت د ده د کمالاتو د اوج اومعراج جهت دی – دا به یوډیر ناروا تبعیض وی چی هغه بل یی کمال ونه گڼو هغه هم په حقیقت کی یو لوی کمال چی په اوسنی زمانه کی ډیر او بیخی ډیر تری بی برخی دی . خوږموږ سترگی ظاهربینی دی چی هغه دده په کمالاتو کی نه شمیرو ځکه موږ ټول د ننني زمانی په تله تلل کوو – د نن په غوږو اور و اودنن په سترگو وینو او دنن له معیارونو او ارځښتونوسره یی پرتله کوو .

د ده د کمال دا جهت د هغه هوښیاری بل مخ دی چی خلك یی چالاکی گڼی خوږه چالاکی نه شم ورته ویلی تراوسه می بل لغت او اصطلاح هم نده ورته پیدا کړی خو یوداسی مهارت اوهنریی گڼلي شم چی د هوښیاری او چالاکی دواړو څه ټومته ورگډه شوی یاهم دواړه پکی مسخه

شویدی پدی جهت کی دی دکابل ترهغو دو آتشه او ډیرو ځیرکو هلکانو اوځوانانو هم وړاندی دی . یوقدم دوه قدمه نه دومره تری مخکی دی چی دهغوی رسیدل ورته ناشونی دی – دلته دی د فوق العاده ښاری کرکټر په حواله معامله کوی خو پدغه هره معامله کی که ظاهراً دی دگټی په موقف کی هم وی په حقیقت کی د یو لوی تاوان تر دراندہ بار لاندی خولی خولی وی خو دا خولی د شرم له هغو خولو سره ډیر توپیر لری چی یو څوك زهیر شی او بیایی په تندی راوتو کیږي .

زه که هر څو د اندیوالانو په سترگو کی دده د شخصیت ددغه جهت د ځایولوهڅه وکړم ناکام شم . ناکام پدی شم چی که دی د میلمنو ډیر قدر وکړی خلك پسی وتري، نادیده دی میلمانه یی ندی لیدلی – که له چاسره منډه تړره وکړی وایی او زگاردی او خپل وخت تیروی که دچا په مخ کی مال وښندی او تاوان وگالی وایی ساده دی څوك یی لیدلی ندی اوته

پوهیږي .

دده ژوند ټول خاطرات دی . هرڅه اوهره خبره یی خاطره ده خو له هغو نه یوه زه د درتو لوستونکومخی ته ږدم :

یو وارله افغانستان نـه د دو وشپو لپاره پیښور تـه راغی – ډیر ښیرنی معلومیده ویل یی په سرحد کی می موټر په تش داگ درولی په دوهمه ورځ چی کله روانیده بکس کی دسامان په ځایولو ډیر ستړی ؤ ده څلـور پنځه جوړه میتځلی جامی ورسره راوری وی چی اوس له نورسامان سره په بکس کی نه ځایبدلی زما چي ورته پام شو پوښتنه می وکړه ، چی د دووشپو له پاره راتلی نو دا څلور جوړه جامی دي دڅه لپاره دورسره راوری ډیر حق په جانب اندازیی ځواب راکړ: ماویل دلته به یی اوتو کرم خو وخت پیدا نشو زماهغه شکاك اندیوال خولا دا حکم هم صادر کړ چي کیدی شی له افغانستان نه تر پیښوره دڅلورجوړه جامو اوتوکولو لپاره یی د سفر موزبی په پښو کری وی .

اوس تاسی لوستونکی د وایی چي یو څوك له یو د هیواد نه بل هیواد ته د اوتوکولو لپاره میتځلی جامی وری هغه په موزیم کی د ایښودو ندی ؟

زه په دا سبب په دو وسترگومین یم چی ځیره د ښو یارانو پري لیدی شی

سازمان ملل گروه هاي درگير را به نقض حقوق بشر متهم کرد

اسلام آباد – ٤ دلو :

یك مقام رسمي سازمان ملل متحد اظهارداشته کـه همه جناحهاي درگير درافغانستان مرتکب نقض حقوق بشرشده وتاکیدنموده که افغانهاخودشان به درگيري هاي جاري ذات البيني شان پايان دهند .

براساس گزارش خبرگزاري « اي پي » چونگ هيـون ـ بايك » ناظرحقوق بشر سازمان ملل ،محـند درافغانـستان، اظهارداشته کـه «درگيري يابحران جاري افغانستان بايـد بوسيله خودافغان هاحل وفصل گردد،ولي جامعهٔ جهاني هم درين زمينه مسئوليت داشته باارسال کمك هاي انسانـدوستانه بـه ملت افغان مـساعدت نمايد»

وي افزود : جامعهٔ جهاني بايدبه مردم افغانستان فرصت دهـد تا راه حل بحران کشورخودرادريابند.

«بايك » که سرپرست هيئت ناظرحقوق بشردرافغانستان است ازکابل وشهرهاي تحت کنترول گروه هاي متعدد ازجمله شهرهاي قندهار، هرات ومزارشريف ديدن خواهد کرد.

وي همه گروه هاي افغان را به نقض حقوق بشرمتهم نموده ،ميگويد : گزارش مفصلي راجع به مواردنقض حقوق بشر درافغانستان تهيه مي کند وسپس آنرابه سازمان ملل متحد درژنوتقديم ميدارد .

«بايك » به خبرنگاران گفت مادرمورد هيچ فرد وگروهي چشم پوشي نمي کنيم وهيچ جناحي موارد حقوق بشررا رعايت نکرده است .

روزچهارشنبه فلسطینی ها دراعتراض به احداث مواضع میان دهکده فلسطینی نشین حبلا و قریه یهودی نشین متان با سربازان اسرائیلی مشت ویخن شده اند.

فلسطینی ها مدعی اندکه دیوار درمنطقه آنها احداث شده وسربازان اسرائیلی با پرتاب بم دستی و گلوله باری فلسطینی هاآن را وادار به عقب نشینی به دهکده شان نمودند . درین اثنا دوفلسطینی مجروح ودوتن دیگر اسیر شدند

ازریاض الناصحین
عجب و کبـرو ریا

هیچ گناهي رانباید اندك شمرد

امام حسن بصري را رحمة الله یکي چنین گفت که : فلان ترابدگفت . حسن گفت : تراوراکجادیدي گفت:درخانهٔ وي . گفت : آنجاچه میکردي ! گفت : آنجامهمان بودم . گفت : درهمانجاچه خوردي ؟ گفت ، فلان وفلان.گفت : اي ناجوان مرد، چندین طعام درشکمت گنجیداواین یك سخن نی ! اگـرتــوراست میگویي مـرابـاوي چهارکاراست، بزبان ازوي گله نکنم ، وبه دل بروي کینه نگیرم ، وبدنیا باوي مکافات نکنم، بقیامت بروي خصومت نکنم، بلکه بي وي دربهشت نیایم بخیزاي فاسق ، آنچه آوردي بازبر که آرنده برنده باشد . درصحاح مي آید بروایت شاه مفسران عبدالله بن عباس (رض) که رسول خدا علیه السلام بدوگوربگذشت ، پس گفت بدرستیکه صاحب این دوگوردرعذاب اند وعذاب کرده نشدند درامربزرگي . امایکي ازایشان بودکه جامهٔ خود راازبول نگاه نمیداشت وبروي پاك نمیداشت ، امادیگري سخن چیني میکرد. بعدازآن رسول علیه السلام برگ خرمابگرفت وبدونیم کرد ودرهرگوري یکي فرو بردوگفت : شاید که تخفیف کنند ازایشان عذاب رامادامي که این برگ خرما خشك نشده باشد. درشرح السنه مي آردکه بعضي عذاب کرده نشدند درامري که بزرگ ودشواربود، یعني دشوارنیست احترازکردن ازبول ، همچنین دشوارنیست ترك سخن چیني کردن . ودرحدیث دیگر فرموده : بپرهیزید ازبول وجامه خودرا ازآن نگاهدارید که بیشتر عذاب گورازآن بود این.بو دبیان گناهاني که کثیرالوقوع است میان مردم ازآنها برحذرباید بود.

قطعه ها

ادب نیك

مصطفي راهزارمعجزه بود | که به مردم همي نمودمقیم
کهترین هـزارمعجزه اش | ادب نیك بود وخلق سلیم

اثردعاء

نکند صـدهـزارتیروتبر | آنچه یك پیره زن کند به سحر
اي بسـاتیـزه عدوشکنان | ریزه گشت ازدعاي پیره زنان

نه غفلت ونه یأس

این مشو که مرکب مردان مـردرا | درسنگلاخ بادیه پیهابریده اند
نومیدهم مباش که رندان باده نوش | ناگه بیك خروش به منزل رسیده اند

بیحاصلي

دل دراین وحشتگه بیگانگان | یك حریف آشنا حاصل نکرد
دروفاکوشید عمري، لیك ازآن | غیر حرمان و جفا حاصل نکرد
کیمیاگـر سالها بهرغنـاء | کندجان وجزعناحاصل نکرد
حاصل خودکرد صرف کیمیا | هیچ چیزازکیمیا حاصل نکرد

دعاونیایش

اي وصف تونیسته حد گویائي ما | حیران شده درصنع توبینائي ما
خـــاکیم زبیم آتشت آب شدیم | یـارب منگرینه باده پیمائي ما

وسیله رحمت

هستیم به ملکت تومشتي درویش | غرق گنه وامید عفوت درپیش
ماراسخني بخش که چون گفته شود | سازیم وراببهانه، رحمت خویش

ناچیزي دنیا

دنیاچه بود که ازپي بیش وکمش | دل دربندد کسي به جوروستمش
پیداست تفاوت وجـودوعـدمش | اونیزنمي مانـد وشادي وغمش

بهشتیـــــــان

آنهاکـه بشارت به بهشت آمد شان | بوبکروعمربود، علي وعثمان
پس سعـدوسعید وزبیر وطلحـه | آنگاه ابـوعبیده وعبدالرحمن

عزت اهل درد

بـه غیردل کـه عزیزونگاهداشتنیست | جهان وهرچـه درواوهست واگذاشتنیست
اگـربه خــون نویسي بـه آب زربنویس | کـه عــزت سخن اهــل درد داشـتنیست

رباعیات

چون چرخ فلك هیچ بکام تونگشت | خواهي تو فلك هفت شهرخواهي هشت
هـرگــزغم دوروزمـرا گردنگشت | روزی کـه نیامدست وروزی که گذشت
«ازعمرخیام»

***

روزی که شگوفه وار، گلگون می رفت | ازچشم زمین وآسـمان خون می رفت
لیلای شهاد ت انتظارش را داشت | کاینگونه به پای عشق ، مجنون میرفت
(جواد محق

حکایت

بیان آنکه حصول علم ومال ، مربدگوهری را فضحیت اوست وچون شمشیر است افتاده بدست راه زن

بدگهـر را علـم وفن آموختن | دادن تیـغ اسـت دسـت راهـزن
تیغ دادن درکـف زنگی مـست | بـه که آید علم نـاکس را بدست
علم ومال ومنصب و جاه وقران | فتنـه آرد درکـف بد گوهـران
پس غزا زین فرض شد برمومنان | تا ستانند ازکف مجنون سنان
جان اومجنون ، تنش شمشیر او | واستان شمشیررا زان زشت خو
آنچه منصب میکند با جاهـلان | ازفضیحت کی کند صد ارسـلان
عیب او مخفیـست چون آلت نیافت | مارش ازسـوراخ برصحرا شتافت
چون قلم در دسـت غداری فتاد | لاجـرم منصـور بـرداری فـتاد
مال ومنصب ناکسی کـارد بـدست | طالب رسوائي خویش او شد است
یاکند بخل وعطا ها کم دهد | یا سخا آرد بـه نـاموضع نهد
